ABADI weekly هفته نامه
آبادي اوونیزه
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
Deputy PM for Economic Affairs
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست
ګڼه ۲۸
نېټه: شنبه، جمادی الاول ۱۹ مه ۱۴۴۵ هـ . ق کال






تر ځمکه لاندې بېلابېلې طبیعي سرچینې دي چې له دغو سرچینو څخه انسان د خپل ژوند پرمخ بېولو له پاره ګټه اخلي. له دې څخه جوته شوه چې طبیعي سرچینې اقتصادي ګټې لري او د یو هېواد په اقتصادي پیاوړتیا کې زیات ارزښت لري. د نړۍ هر هېواد هڅه کوي له خپلو طبیعي سرچینو څخه د خپل هېواد د اقتصاد د پیاوړتیا په برخه کې اعظمي ګټه پورته کړي، څو یې له یوې خوا ملي اقتصاد غښتلی او له بل لوري یې د خلکو د ژوند سطحه لوړه شي. په دې سرچینو کې مور کولی شو چې د کرنیزو ځمکو، ځنګلونو، کانونو، اوبو، څرځایونو او داسې نورو یادونه وکړو. دا ټول کولای شي چې د یوه هېواد په پرمختګ کې رغنده رول ولري، خو کانونه په ځانګړي ډول نفت چې په توره طلا هم مشهور دي، هغه برخه ده چې که چېرې په سم ډول مدیریت او زېرمې یې راوایستل شي، نو یو هېواد د پرمختګ ترڅنګ پر نړیوال ستېج هم هغه ځای ته رسوي چې خبره یې وزن پیدا کړي.

په همدې لړ کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې د تېلو د استخراج ۸ نورو څاګانو پرانیسته وکړه. د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، د دغه مهمې پروژې د عوایدو پر مټ به په سرپل ولایت کې مجهز روغتون، د خلکو له غوښتنې سره سم معیاري سړک او همدا راز د اوبو بند هم جوړ شي، چې زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر او د عوایدو په زیاتوالي کې به مهم رول ولوبوي.

افغانستان له طبیعي زېرمو ډک هېواد دی چې د تېرو څو لسیزو په اوږدو کې ورته ډېر درانه زیانونه اوښتي، کانونه په خپلسري ډول کیندل کیدل او ګټه یې د ګوتو په شمېر کسانو ته رسېده. خو اوس چې په هېواد کې خپلواک حکومت رامنځته شوی، نو ځکه خو په فني او مسلکي ډول د کانونو کیندنې ته لار هواره شوې ده. له دې کانونو څخه یو هم همدا د آمو حوزې د تېلو استخراج دی چې قرارداد یې له یوې چینايي کمپنۍ سره شوی دی. که چېرې د افغانستان د تېلو حوزې لکه آمو نفتي حوزه، افغان-تاجیک، کشکه، کټواز، هلمند او د هرات تیرپارک څخه تېل استخراج شي، د افغانستان اقتصاد به ورسره پیاوړی شي. همدا اوس د آمو د تېلو حوزې څخه هره ورځ اته سوه ټنه تېل استخراجېږي. په راتلونکي کې به یې تولید تر ۱۰۰۰ ټنو لوړ شي. په لومړیو کې به په ورځني ډول پنځه سوه زره ډالر عواید د دولت بودیجې ته ولاړ شي او په راتلونکي کې به د استخراج کچه په ورځ کې ۲۰۰۰ ټنو ته لوړه شي چې ورسره به دولت یواځې د تېلو د استخراج له درکه د ورځې یو میلیون ډالر عواید ولري. په دې سره به افغانستان د تېلو له درکه لومړی پر ځان بسیا او بیا به په نړیوال ستېج خپل برم ترلاسه او نړیوال به یې موقف او دریځ ته درناوی کوي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې د نفتو استخراج د ۸ نورو څاګانو پرانیسته وکړه



د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان لمریز کال د قوس میاشتې په ۷مه نېټه په سرپل ولایت کې د آمو نفتي حوزې د نفتو استخراج د ۸ نورو څاګانو پرانیسته وکړه. په یادو مراسمو کې پر محترم ملا صاحب سربېره د کانونو او پټرولیم سرپرست وزیر شیخ شهاب‌الدین دلاور او د سرپل ولایتي مسوولینو هم حضور درلود.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال په همدې مناسبت جوړو شوو مراسمو ته د خپلو خبرو پر مهال وویل، اسلامي امارت د ټولو ولایتونو متوازن پرمختګ ته پاملرنه کړې او دا دي نن موږ په سرپل ولایت کې د یوې مهمې پروژې د پرانیستې شاهدان یو، چې زیاته ګټه به یې د همدغه ولایت اوسېدونکو ته ورسېږي.

د محترم ملا صاحب په خبره، د دغه مهمې پروژې د عوایدو پر مټ به په سرپل ولایت کې لوی مجهز روغتون، د خلکو له غوښتنې سره سم معیاري سړک او همدا راز د اوبو بند هم جوړ شي، چې زرګونو کسانو ته به کاري فرصتونه برابر او د هېواد په اقتصادي وده او د عوایدو په زیاتوالي کې به مهم رول ولوبوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له قراردادي شرکت وغوښتل څو د یادې پروژې کارونه د قرارداد مطابق په ښه ډول ترسره او د سرپل ولایت د اوسېدونکو اړتیاوو ته

په کتو دې په دغه ولایت کې عام‌المنفعه پروژې بشپړې کړي.

د یادولو وړ ده چې د آمو نفتي حوزې د ۸ نورو څاګانو په فعالېدو سره به د نفتو په استخراج کې په ورځني ډول ۸۰۰ مترمکعب زیاتوالی راشي او ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکې کې به یې ۱۰ نورې څاګانې هم فعالې شي. د آمو نفتي حوزه کې اوسمهال ۳۵۰ انجنیران او ۵۵۰ کارکوونکي په مستقیم ډول پر کار مصروف دي، چې د ۸ نورو څاګانو په فعالېدو سره به یې په شمېر کې زیاتوالی راشي.



## د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجندا سره سم د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه هراړخیز بحث وشو. دغې ناستې ته له افغان ګاز تصدۍ څخه د برېښنا د تولید لپاره د طبیعي ګازو د ترلاسه کولو په تړاو د سپین زر خصوصي شرکت طرحه وړاندې شوې وه، چې تر هراړخیز بحث وروسته اوبو او انرژۍ، کانونو او پټرولیم وزارتونو، د افغانستان برېښنا شرکت، د افغان ګاز تصدۍ او سپین زر خصوصي شرکت له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې په دغه برخه کې د پانګونې یوه جامع طرحه جوړه کړي، څو یې تر بیاځلي ارزونې وروسته اقتصادي کمېسیون ته واستوي. همدارنګه د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې په یاده نوبتي غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ملي آرشیف د عوایدو زیاتوالي طرحه د دغه کمېټې له لوري د راغلو تغییراتو په پام کې نیولو سره په پرنسیپ کې تایید شوه او اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دنده وسپارل شوه، څو یې د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته ولېږي.



## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي ناسته په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجندا سره سم د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه هراړخیز بحث وشو. دغې ناستې ته د هېواد په څلورو زونونو کې د کرنې، مالدارۍ او کرنیزو تولیداتو د کمپلکسونو جوړولو سربېره په مختلفو سکټورونو کې د پانګونې طرحې د خصوصي سکټور له لوري وړاندې شوې وې. یادې طرحې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري په پرنسیپ کې تایید او د تخنیکي، اقتصادي او حقوقي ارزونې لپاره یې اړوندو وزارتونو ته راجع کړې. دغه راز په یاده ناسته کې د پښتنۍ بانک مخامخ د کابل ښاروالۍ اړوند ځمکه کې د خصوصي سکټور له لوري د عامه او خصوصي مشارکت له لارې د دوه پوړیزې سوداګریزې ودانۍ د جوړولو طرحه د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د لسو کلونو په قرارداد تایید شوه.







ABADI weekly
هفته نامه
آبادي اوونيزه

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو
په برخه کې د رياست الوزراء
اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه



# مکثی بر قرار داد استخراج نفت حوزهٔ آمو دریا

نویسنده: هدایت الله واحدی

**مقدمه**

مسلم است که نفت در دنیای امروزی یک منبع مهم در تولید انرژی می باشد و نقشی مهمی در تعیین سطح قدرت های ملی و جهانی کشور های مختلف دارد. از آن جایی که نفت و گاز طبیعی به مثابه کارا ترین منبع تأمین انرژی بشر امروزی شناخته شده طوریکه نفت خام حدود ۴۵ فیصد و گاز طبیعی ۲۵فیصد انرژی دنیا را تأمین می کند از اینرو نفت و گاز در معادلات اقتصادی و سیاسی جهان، اهمیت راهبردی داشته و در پروسه روابط بین المللی نقش بسزای دارد. با درک این حقانیت امارت اسلامی افغانستان که همواره در صدد یافتن راه های برای داشتن یک اقتصاد بر پایه های وسیع است، به همین منظور محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء به روز سه شنبه هفتم قوس سال جاری، ۸ چاه جدید استخراج نفت حوزهٔ نفتی آمو دریا را طی مراسمی افتتاح نمود. افتتاح استخراج این هشت چاه جدید نقش بسزایی در رشد و توسعه اقتصادی کشور ما داشته که در نوشته حاضر پیرامون کارکرد امارت اسلامی در خصوص قرارداد نفت حوزه آمو دریا و آغاز استخراج هشت چاه جدید نکاتی را جهت تسکین حس کنجکاوی علاقمندان به رشته تحریر در آورده ام.

**مروری بر قرار داد استخراج نفت حوزهٔ آمو دریا**

امارت اسلامی افغانستان با تعهد که در برابر کشور و ملت دارد، همیشه در پی آن است که در چهار چوب اصول عدالت اجتماعی و حفظ حقوق کرامت انسانی مسیر های را برای داشتن یک اقتصاد قوی جستجو کند و زمینه هایی را که در شرایط کنونی می تواند، اقتصاد افغانستان را حمایت کند، توسعه داده و از عواید آن در بخش های اقتصادی بهره مند و اقتصاد افغانستان تقویت یابد. بنا بر همین هدف و امیدواری امارت اسلامی قرار داد استخراج نفت حوزه آمو دریا را در جدی ۱۴۰۱ با یک کمپنی چینایی امضاء کرد. مساحت مجموعی این حوزه ۴۵۰۰ کیلومتر مربع بوده که شامل ساحات قشقری، زمردسای، بازارکمی، آق دریا و انگوت در ولایت های سرپل، جوزجان و فاریاب می باشد. بر اساس معلومات وزارت معادن کشور، در پنج ساحه اکتشاف شده، ۸۷ میلیون بایلر تیل تخمین شده که با اکتشاف بیشتر ساحات، تولید روزانه پروژه نفت و گاز قشقری از ۲۰۰ تن به ۱۰۰۰ تن خواهد رسید. بناً این مقدار واقعاً در کاهش قیمت نفت در کشور بی نظیر خواهد بود و به مرور زمان با اکتشافات بعدی افغانستان در بخش نفت خود کفا خواهد شد.

براساس این قرارداد، پروسس تیل و مواد نفتی در افغانستان صورت می گیرد و طبق این قرارداد، در سال اول شرکت قراردادی مبلغ ۱۵۰ میلیون دالر سرمایه گذاری نموده و در سه سال آینده مجموعه سرمایه گذاری به ۵۴۰ میلیون دالر خواهد رسید که با تطبیق این پروژه برای ۳ هزار تن زمینه شغلی نیز مساعد می شود، که همین اکنون در این پروژه صد ها تن مشغول کار می باشند.

از مفهوم بالا چنین استنباط می شود که با این سرمایه گذاری هنگفت، روند استخراج نفت این حوزه به شکل سیستماتیک و بدون مشکل جامهٔ عمل خواهد پوشید، چنانچه از بدو قرارداد تا به این سو امور استخراج نفت حوزه آمو دریا طبق پلان به وجه احسن پیش می رود و از سوی دیگر زمینه کار برای شهروندان ما فراهم گردیده که این خود در رشد اقتصاد کشور حایز اهمیت است. چنانچه به سلسله فعالیت های که در حصه تطبیق این پروژه ادامه دارد، خوشبختانه ما شاهد افتتاح استخراج هشت چاه جدید این حوزه نفتی هستیم. چنانچه محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء هفتم قوس سال جاری، ۸ چاه جدید استخراج نفت حوزهٔ نفتی آمو دریا را طی مراسمی افتتاح نمود. در این مراسم علاوه بر



ملا صاحب، شیخ شهاب الدین دلاور سرپرست وزارت معادن و پترولیم و مسؤلین ولایتی سرپل نیز حضور داشتند. معاون اقتصادی ریاست الوزراء طی سخنانی در این مراسم گفت، امارت اسلامی به توسعه متوازن همه ولایت ها توجه داشته و امروز شاهد افتتاح بخشی از یک پروژه مهم در ولایت سرپل هستیم، که نفع بیشتر آن به باشنده گان این ولایت خواهد رسید. به گفته محترم ملا صاحب، با آغاز این پروژه مهم، یک شفاخانه بزرگ مجهز، سرک معیاری و یک بند آب طبق تقاضای مردم اعمار خواهد شد که برای هزاران تن فرصت کاری فراهم و نقش مهمی در رشد اقتصادی و افزایش عواید کشور خواهد داشت. محترم ملا عبدالغنی برادر آخند از شرکت قراردادی خواست تا طبق قرارداد کار پروژه مذکور را به وجه احسن انجام داده و با در نظرداشت نیازمندی های مردم ولایت سرپل در این ولایت پروژه های عام المنفعه را آغاز و در وقت معین تکمیل نماید.

قابل یاد آوریست که با فعال شدن ۸ چاه جدید در حوزۀ نفتی آمو دریا، در استخراج روزانه نفت ۸۰۰ مترمکعب افزایش به عمل میآید و قرار است در آینده نزدیک ۱۰ چاه نفت دیگر نیز فعال شود. در حال حاضر ۳۵۰ انجنیر و۵۵۰ کارگر به صورت مستقیم در حوزۀ نفتی آمو دریا مشغول کار هستند که با فعال شدن این ۸ چاه جدید در شمار کارمندان آن افزایش به وجود خواهد آمد. سخنان، سعی و تلاش معاون اقتصادی ریاست الوزراء و سرپرست وزارت معادن و پترولیم حاکی از آن است که امارت اسلامی افغانستان از هیچ نوع تلاش در برابر توسعه و انکشاف مسایل زیربنایی (اقتصاد) دریغ نورزیده بلکه مشتاقانه در راهٔ عمران نقاط کلیدی اند که به اثر آن جامعه و ملت ما به بالنده گی در همه ابعاد فایق آیند.





استخراج نفت حوزه آمو دریا را با یک شرکت چینایی در جدی ۱۴۰۱ امضأ کرد تا مردم و کشور ما در آینده نه چندان دور در این زمینه نیازی به واردات نداشته باشند و از این طریق برای تقویت اقتصاد کشور ممد واقع شوند و انکشافات بعدی در حوزه نفتی امو دریا که عبارت می باشد از آغاز استخراج هشت چاه جدید و در آینده نزدیک فعال شدن ده چاه دیگر دستآورد بزرگی در راستای خود کفایی در خصوص مسایل نفتی در افغانستان خواهد بود.

## نتیجه‌گیری

از مفاداتیکه در بالا گفته شد بر میآید که نفت و گاز طبیعی، مهم ترین منابع تأمین انرژی بشری کنونی هستند، عواید حاصله از فروش نفت و گاز، فرصت های اقتصادی را می‌آفرینند. نیاز کشورهای جهان به منابع انرژی باعث گسترش روابط سیاسی و اقتصادی در صحنه بین‌المللی می‌گردد از سوی دیگر استخراج این منابع، کشور ها را به سوی خود کفایی سوق داده و متضمن رفاه و آسایش است. به همین هدف امارت اسلامی افغانستان قرار داد

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۹,۴۰ | ؋۶۹,۴۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۳۶ | ؋۲۳۷ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۳۸ | ؋۱,۴۰ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۵.۸۰ | ؋۷۶.۰۰ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۶۷ | ؋۰.۷۷ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۳۷ | ؋۸۴۷ |
| ۱ | انگلیسي پوند | ؋۸۸,۳۹ | ؋۸۸.۴۵ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۶۹ | ؋۱۸.۷۹ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹.۱۰ | ؋۱۹.۲۰ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۸۷ | ؋۹,۹۷ |